

# افغانستان ته راستنیدنه

د افغانانو لپاره د پذیرایی او بیا میشته کیدنی مرسته

IOM Internationale Organisatie voor Migratie

**IOM Nederland**
Postbus 10796
2501 HT Den Haag

T 0900 – 746 44 66 (€ 0,05 p.m.)

I www.iom-nederland.nl

د مهاجرت نړیوال سازمان(IOM) ددی لپاره تاسیس شویدی چی خلکو سره خپلو کورونو ته د راستنیدنی او د یو نوی ژوند پیلولو په برخه کی مرسته وکړی. که چیرته تاسی د افغانستان تبعه یاستی او غواړئ چی خپل هیواد ته ستانه شی نو مهربانی وکړی دا لاندی مطلب ولولئ چی IOM څنګه کولایشی تاسی سره مرسته وکړی.

د IOM دغه پروژه د هغو افغانانو لپاره پیل شویده چی په هالینډ کی اوسیږی او غواړی چی بیرته افغانستان ته ستانه شی.

د لازیاتو معلوماتو لپاره د IOM د مشاورینو څخه وخت واخلی، هغوی به تاسی ته پرته د کوم قید څخه ستاسی په هیواد کی د بیامیشته کیدنی د مرستی د امکاناتو په اړه تفصیلی معلومات درکړی.

که چیرته تاسی غواړی چی پخپله خوښه خپل هیواد ته بیرته ستانه شئ نو په افغانستان کی د IOM دفتربه تاسی سره د راستنیدنی سره سم مرسته وکړی. هغوی به تاسی سره ۸۰۰ یورو نغده مرسته وکړی او همداراز تاسی ته به د بیامیشته کیدنی مرستی برابری کړی (تر ۳۰۰۰ یورو پوری به ستاسی د بیامیشته کیدنی پلان کی پانګه اچونه وکړی). دغه مرستی په افغانستان کی د ۸ ساحوی دفترونو څخه ترلاسه کیدایشی (فیض اباد، ګردیز، هرات، جلال اباد، کابل، کندهار، کندز او مزار شریف).

Infosheet Herintegratie in Afghanistan
Pashtu

Ned 0/1/516 T 2009

**د IOM هالينډ څخه تاسی د څرنګه مرستی هيله لری؟**

- په افغانستان کی د راستنيدنی په اړه عملی مالومات، د بيلګی په ډول استوګنه، تعليم او روغتياوی اسانتياوی.
- د بياميشته کيدنی د مرستو او د هغی د نظارت په اړه تفصيلات.
- که چيرته تاسی غواړی يو تجارت پيل کړئ نو IOM کولايشی تاسی ته د تجارتی تجويزليک/پروپوزل يوه نمونه/فارميټ درکړی.
- د سفری اسنادو لاس ته راوړلو کی مرسته.
- د هالينډ څخه د روانيدنی  پر وخت د شيفول (Schiphol) په هوايی ډګر کی مرسته.
- د طياری يوطرفه ټکټ.
- په افغانستان کی د هوايی ډګر څخه ستاسی وروستنی تمځای پوری د رسيدو په موخه د ترانسپورتی لګښتونو مرسته.
- تر ۵۰۰ يورو پوری مالی مرسته.

**د پزيرايی په مرستو کی کوم شيان شامل دی.**

- د راستنيدونکو د هويت تعين او د امګريشن او ګمرک په برخه کی لارښوونه.
- روغتيا يی مرستی (که چيرته اړينه وی).
- ورستی تمځای ته ترانسپورتی مرسته.
- د دوه اونيو لپاره لنډ مهاله استوګنه (که چيرته اړينه وی).
- د افغانستان په اړه مالومات، د بيلګی په ډول د ماينونو په اړه پوهاوی او خبرتيا.
- د ورک شوی مال او سامان په برخه کی مرسته.

**تاسی د بياميشته کيدنی څرنګه مرستو هيله لرئ؟**

د بياميشته کيدنی ټول کارونه به په افغانستان کی د IOM لخوا اجرا کيږی. د ټول هيواد په کچه د IOM د بياميشته کيدنی د برخی مامورين تاسی ته د مشوری مجلسونه دايروی. په دغه مجلسونو کی به ستاسی د بياميشته کيدنی اړتياوی او استعدادونه تشخيص شی. ستاسی د اړتيا او دلچسپئ سره سم به تاسی ته روزنيز کورس غوره شی. تاسی کولايشی چی تعليمی روزنه لکه انګليسی او د کمپيوتر اساسی پروګرامونه ځان ته انتخاب کړئ. همداراز تاسی لپاره مسلکی کورسونه لکه د معمارئ د تجارت مهارتونو کی ترکانی او بنايی هم موجود دی. که چيرته تاسی ځان ته دنده پيدا کړه نو تاسی کولايشی چی د کار سره روزنه (داخل خدمت) ځان ته انتخاب کړئ. IOM همداراز تاسی سره د کاروبار د پيلولو په تصميم کی چی ايا ستاسی لپاره مناسب دی هم مرسته کولای شی. د کاری پلان په جوړولو کی به هم تاسی سره مرسته کيږی او د لازياتو مرستو لپاره به تاسی ته د کوچنی پورونو دفترونه هم مشخص کړايشی. IOM په افغانستان کی تاسی سره د کارموندنی او په بيلابيلو دفترونو کی د خالی بستونو په برخه کی مرسته کوی.

 د ۸۰۰ يورو سربيره کومی چی به تاسی د راستنيدنی پر مهال درکول کيږی، په افغانستان کی د مهاجرت نړيوال سازمان به ستاسی د بياميشته کيدنی پلان کی ۳۰۰۰ يورو پانګه اچونه کوی.

**چيرته کولايشئ چی لازيات مالومات ترلاسه کړئ؟**

که چير ته تاسی د لازياتو معلوماتو غوښتونکی وی او يا مو لا دمخه افغانستان ته د ستنيدنی تصميم نيولی وی د مهاجرت نړيوال سازمان سره د تيليفون د لاری په لاندی شميره اړيکه ونيسئ.

۰۹۰۰ ــ ۷۴۶ ۴۴ ۶۶

تاسی کولای شی چی د لاندی ويپاڼه څخه د IOM د نږدی دفتر پته  او د کاری وخت په اړه معلومات ترلاسه کړی.
www.iom-nderland.nl/

د ا يوازی يوه معلوماتی پاڼه ده او  هيڅوک نشی کولای چی د يو قانونی سند په توګه تری ګټه پور ته کړی.